الدرس الخامس
الدعوة الجهرية

پنځم درس
ښکاره دعوت

درسول الله ﷺ د پټ دعوت چې کله درې کاله وشو ، نو د الله تعالی د طرفنه حکم راغے : [فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ] {الحجر:٩٤} ترجمه : پس صفا صفا بیان کړه هغه چې تا ته حکم کړې شوی دی د هغې د بیانولو ، او مخ اوګرځوه د مشرکانو نه ، یوه ورځ رسول الله ﷺ صفا غونډئ باندې اُودریدو ، مکے والو ته ئے آواز وکړو ، ډیر خلق راجمع شول ، دی خلقو کښې د نبی کریم ﷺ تره ابو لهب هم موجود وو چې د الله او د رسول په دشمنئ کښې د هر چا نه مخکښې وو ، خلق چې کله راغلل نبی کریم ﷺ وفرمایل : که زه تاسو له خبر درکړم چې ددې غر نه هغه طرفته دشمن دی ، تاسو باندې حمله کوی نو تاسو به زما خبره ومنئ ، ټولو ووئیل : مونږه ته نه ئے مونډلے مګر ریشتونی او امانت دار، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: زه ستاسو دپاره یره درکونکے یم مخکښې ددې نه چې سخت عذاب د الله راشي، ددې نه پس نبی کریم ﷺ الله طرفته دعوت شروع کړو، او د بت پرستئ چې په هغه زمانه کښې رواج وو تردید به ئے کولو، دغه ځائي کښې موجود ابو لهب غصه شو، وے وئیل : (معاذ الله) هلاک شې، تا مونږ ددې خبرې دپاره راجمع کړې یو ، الله تعالی د ابو لهب په باره کښې داسې آیاتونه نازل کړل چې تر قیامته پورې به لوستلی کیږی : [بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ] [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ، مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ، سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ، وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الحَطَبِ، فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ] {المسد:٥} ترجمه: هلاک شول دواړه لاسونه د ابو لهب او هلاک شو دی ، فائده ورنکړه ده ته مال دده او هغه څیز چې ده ګټلی وو ، زر دی چې ورننوځی به اُور لمبو والا ته ، او ښځه دده چې راوچتوونکے د خشاک ده ، په ستّ د هغې کښې رسۍ ده د پوستکي د کجورې نه ، نبی کریم ﷺ خپل دعوت باندیے کلک ولاړ وو ، چرته به چې د خلقو اجتماع په نظر راتلله، هغوی ته به ئے دعوت ورکولو ، د خانه کعبے خواء کښې به ئے مونځ اداء کولو، او د خلقو په اجتماعاتو کښې به شریک کیدلو ، او د اسلام پیغام به ئې رسولو او دعوت ورکولو دپاره به د مشرکانو بازارونو ته ورتللو ، ډیر تکلیفونه به ئے برداشت کول ، کومو خلقو به چې ایمان راوړو مشرکانو به ډیر تکلیفونه ورکول لکه چې سُمیه بی بی او یاسر او عمار رضی الله عنهم ته ئے دومره سزاګانې ورکړې چې یاسر او سُمیه رضی الله عنهما شهیدان شول ، سُمیه رضی الله عنها هغه ښځه ده چې په اسلام کې اوله شهیده شوې ده ، یاسر رضي الله عنه په اسلام کښې اول د شهادت درجه حاصله کړیده، بلال بن رباح حبشی رضی الله عنه ته هم امیه بن خلف او ابوجهل ډیرې سزاګانې ورکړې وې ، ورته به ئے وئیل : اے بلاله ! اسلام پریږده ، بلال رضی الله عنه په اسلا باندې مضبوط وو ، امیه بلال رضی الله عنه په زنځیرونو کښې وتړلو ، او بهر د مکے مکرې په ګرمو شګو کښې به ئے څملولو ، او پڅپله هم او په نور مشرکانو باندې به ئے هم په کوړو وهلو ، د بلال رضی الله عنه د خُولئ مبارکې نه به صرف د اَحد اَحد آواز راتللو ، یوه ورځ ابو بکر صدیق رضي الله عنه وربا‌ندې ورتیر شو ، نو د امیه نه ئے واخستلو او د الله دپاره ئے آزاد کړو ، پدې مشکل حالت کښې د حکمت د وجه نه رسول الله ﷺ مسلمانان د اسلام د ښکاره کولو نه منع کړې وو ، ددې وجې نه به نبی اکرم ﷺ د صحابه کرامو سره په تنهائی کښې میلاویدو ، کچرته نبی کریم ﷺ ښکاره ملاویدلی نو مشرکانو به د هغه او د هغه د دعوت ترمینځ مانع واقع کیدلی ، او ممکنه وه چې ددې وجه نه د دواړه ډلو مینځ کښې جنګ راغلی وی، چونکه د مسلمانانو تعداد هم کم وو، او اسباب د جنګ هم نه وو، ددې وجې نه نبی کریم ﷺ مسلمانانو ته د اسلام د پټولو حکم کړې وو، رسول الله ﷺ به د مشرکانو مخکښې د تکلیفونو باوجود ښکاره دعوت او عبادت کولو .